جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

---

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمایي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.

زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کیده.

تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

---

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دو شنبه ۲۲ کب ۱۴۰۱ هـ ش ۲۰ شعبان المعظم ۱۴۴۴ هـ ق ۱۳ مارچ ۲۰۲۳ م مسلسله شمېره (۲۹)

## د سترې محکمې نظامي معاون د یوه پلاوي په مشرۍ د هیواد ۲۵ ولایتونو ته سفر وکړ

د سترې محکمې نظامي معاون محترم شیخ خیرجان خیرخواه صاحب د روان ۱۴۴۴ هجري قمري کال په جمادي الثاني میاشت کې د اسلامي امارت د محترم مشرتابه په حکم او د سترې محکمې د مقام په هدایت د یوه پلاوي په مشرۍ د نظامي محاکمو زونونو او د هغوی اړوند ولایتونو ته سفر وکړ.

د سترې محکمې د نظامي معاون محترم شیخ خیرجان خیرخواه صاحب په مشرۍ دغه پلاوي چې د سترې محکمې د نظامي منسوبینو دېوان مفتي محترم مولوي حیات الله (ثابت)، د یاد دېوان محرر محترم مولوي عبدالباقي (طیب) او محترم مولوي صفی الله (الهام خادم) یې غړیتوب درلود، د خپل سفر پر مهال د هر ولایت د استیناف محکمې له رئیس او نورو مسؤولینو، د زونونو د رئیسانو او غړو او د امکان په صورت کې د هر ولایت له والي سره وکتل.

د سترې محکمې دغه پلاوي له یادو مسؤولینو سره د لیدنو پر مهال په هر ولایت کې د نظامي محکمې د څانګې د جوړولو پر اهمیت مشورې وکړې او د ولایتونو ترمنځ فاصلې او د نظامي پېښو اندازې ته په کتو یې دا مناسبه وګڼله چې په ولایتونو کې تقریبا ۱۵ نظامي څانګې جوړې شي ترڅو د مجاهدینو مشکل حل شي.

د سترې محکمې د نظامي معاونیت دغه پلاوی فاریاب، جوزجان، سرپل، بلخ، سمنګان، بغلان، کندوز، ننګرهار، لغمان، کونړ، بامیان، میدان وردګ، غزني، پکتیکا، پکتیا، خوست، لوګر، زابل، کندهار، هلمند، نیمروز، فراه، هرات، بادغیس او اروزګان ولایتونو ته له خپل سفر وروسته بېرته سترې محکمې ته راستون شو .

## د قضائي پلټنې عمومي ریاست مسلکي غړو د کونړ ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام په هدایت او د قضایي تفتیش د عمومي رئیس مفتي محمدابراهیم جان (ابوالحفاظ) په اجازه د دغه ریاست یوه مؤظف پلاوي د ۱٤٤٤ هجري قمري کال د رجب میاشتې په ۲۵مه نېټه کونړ ولایت ته د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړلو په موخه سفر وکړ.

یاد پلاوي په پیل کې د کونړ ولایت د مرافعه محکمې له رئیس سره وکتل، ورپسې یې د خپل کاري پلان له مخې د یاد ولایت د (۱۵) ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو، ښاري محکمې د ریاست او اړوند دېوانونو او د مرافعه محکمې د ریاست او اړوند دېوانونو څخه جلا، جلا لیدنه وکړه.

د سترې محکمې د قضائي تفتیش عمومي ریاست دغه پلاوي د تفتیشي بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخیزه پلټنه ترسره کړه، د محاکمو د قضائي او اداري کارکوونکو د چلند او مسلکي اړخونو په اړه یې پوره معلومات وکړل او د چارو د لاسمون په برخه کې یې ورته لازمې لارښوونې وکړې.

یاد پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او لوژستیکي نیمګړتیاوې له ځان سره نوټ کړل او په لومړي قدم کې یې د ښاري محکمې په دېوانونو کې شته مشکلات د ښاري محکمې له رئیس سره شریک کړل، په دویم قدم کې یې د ستونزو د هواري، د خنډونو د له منځه وړلو او د نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د کونړ ولایت د مرافعه محکمې د ریاست له مقام سره تفاهمي ناسته ترسره کړه او ټول مشکلات یې په جلا، جلا توګه ورسره شریک کړل.

پر دې سربېره دغه پلاوي د بندیانو د وضعیت د څېړلو په موخه د کونړ ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه او د یاد محبس اړوند زندانیانو بشپړ شهرت، کیفیت او شکایتونه یې له ځان سره نوټ او بیا یې د اړوند محاکمو له مسؤولینو سره شریک کړل.

دغه راز مؤظف پلاوي د یاد ولایت د محاکمو د برحاله قضاتو څخه ازموینه واخیستله.

د پلټنې هیئت د خپل سفر په پای کې د کونړ له محترم والي او امنیه قوماندان سره وکتل د محاکمو د فعالیتونو د لابنه پرمختګ او د ځینو مربوطه ستونزو د حل په باره کې د هغوی نظرونه واورېدل.

د قضایي تفتیش د پلټنې هیئت د ۱٤٤٤ هجري قمري کال د شعبان میاشتې په ٦مه نېټه خپل سفر په داسې حال کې چې له لاسته راوړنو ډک و پای ته ورساوه.

## د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست له ټولو اداري کارکوونکو ازموینه واخیسته

د پنجشنبې په ورځ چې د روان ۱۴۴۴ هـ ق کال د شعبان میاشتې له۲ مې نېټې سره برابره ده د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست د یادې ادارې له ټولو کارکوونکو دیني ازموینه واخیسته.

د ازموینې په پیل کې د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رئیس محترم حافظ مولوي عبدالعزیز صاحب د دیني علومو د زده کړې د اهمیت او لازمیت په اړه اصلاحي بیان وکړ.

نوموړي ټولو کارکوونکو ته وویل، د دیني علومو زده کړه په هر مسلمان فرض ده، دعوت او ارشاد ریاست به له ابتداء تر لوړې کچې د سترې محکمې کارکوونکو ته دیني علوم ورزده کوي.

محترم حافظ مولوي عبدالعزیز صاحب ډاډ ورکړ چې د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست د منظم تدریس په نتیجه کې به یوه ورځ ټول کارکوونکي تر ډېرې اندازې په دیني علومو پوه وي.

ورپسې د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست محترم مدرس مفتي ضیاءالحق صاحب د ازموینې ګډونوالو ته د ازموینې په اړه بشپړه لارښوونه او رهنمایي وکړه وویل، نننۍ ازموینه ډېره اسانه ده، په ارام فکر پوښتنې حل کړئ.

باید وویل شي چې د سترې محکمې اړوند د دعوت او ارشاد ریاست د خپل پلان له مخې په اوونۍ کې د دوو ورځو اصلاحي بیانونو سربېره د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو ټولو کارکوونکو ته د دیني علومو تدریس هم کوي.

## د زابل ولایت مرافعه محکمې رئیس دیاد ولایت په شاه جوی ولسوالۍ کې د وژل شوي شخص د کورنۍ له غړو سره وکتل

د روان ۱٤٤٤ هـ ق کال د شعبان میاشتې په ٥مه نېټه د زابل ولایت د مرافعه محکمې رئیس محترم شیخ مولوي نقیب الله (اخندزاده) دښاري محکمې د رئیس محترم مولوي فضل الرحمن (فضلي) او د تحریراتو د آمرحکمت الله (عاصم) په ملتیا د یوه وژل شوي کس د کورنۍ له غړو سره د لیدنې په موخه د یاد ولایت شاجوی ولسوالۍ ته سفر وکړ.

دا چې څو ورځې مخکې په شاه جوی ولسوالۍ کې د حاجي ضابط په نوم یو کس د خپل ملګري له خوا په شهادت رسېدلی و، نو د زابل ولایت د مرافعه محکمې محترم رئیس دا مناسبه وبلله چې د مقتول کورنۍ له غړو سره د فاتحې، تسلیت او غمرازۍ په هدف وویني.

په یاده لیدنه کې دمرافعه محکمې رئیس د مقتول وارثینو او خپلوانو ته اطمینان ورکړ چې په محاکمو کې به لومړیتوب ستاسو موضوع ته ورکول کېږي؛ تاسو هم د خپلې موضوع د شرعي او قانوني تعقیب لپاره خپلې اړوندې ابتدائیه محکمې ته مراجعه وکړئ او کوښښ وکړئ چې مشران او کشران کنټرول کړی چې له بالمثل عمل څخه مخنیوي وشي.

په پای کې د مقتول وارثینو او خپلوانو د اسلامي امارت له ټولو مسؤولینو خوښي څرګنده کړه او د مرافعه محکمې د رئیس د توصیو د عملي کولو پوره ژمنه وکړه.

---

**د شریعت مأخذونه**

**درېیمه برخه**

الله تعالی د پیغمبر صلي الله علیه وسلم ژوند د پیروۍ لپاره وړ ګرځولی دی، لکه څرنګه چې الله تعالی د سُورَةُ الاٴحزَاب په ۲۱ آیت کې فرمایي:

ژباړه: په یقیني توګه ستاسې لپاره د الله په پیغمبر کې د نېکۍ یوه خورا غوره نمونه ده، د هر هغه چا لپاره ده چې د الله او د اخرت د ورځې هیله من وي او الله ډېر ډېر یاد کړي.

او الله تعالی مسلمانان امر کړی دی، چې هغه څه ټینګ کړئ چې رسول الله صلي الله علیه وسلم راتګ پرې کړی وي او له هغه څخه ځانونه وساتئ چې ور څخه یې منع کړې یاست، لکه څرنګه چې الله تعالی د سُورَةُ الحَشر په ۷ام آیت کې فرمایي

ژباړه: څه چې پیغمبر (صلي الله علیه وسلم) تاسې ته درکوي، هغه واخلئ؛ او له څه شي څخه چې تاسې منع کوي، له هغه څخه منع سئ.

بې شکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت څخه هدف دا دی، چې خلک د ده صلي الله علیه وسلم پیروي او تابعداري وکړي، لکه څرنګه چې الله تعالی د سُورَةُ النِّسَاء په ۶۴ام آیت کې فرمایي:ژباړه: (هغوی ته څرګنده کړه چې) موږ هر پیغمبر یوازې ددې لپاره لېږلی دی چې د خدای په حُکم د هغه اطاعت وکړای سي.

اخذلیک: تتمة النظام، ۲۲ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

# گزارش‌های اجراآت قضائی محاکم برخی از ولایات کشور

## در محاکم ولایت سمنگان در جریان دو هفته (۹۵) دوسیه حل و فصل شده است

گزارش اجراآت دو هفته (از تاریخ ۱٤٤٤/۷/۱۳ هـ ق الی ۱٤٤٤/۷/۲۵ هـ ق) ریاست عمومی محاکم استیناف ولایت شامل دواوین استیناف، محکمهٔ ابتدائیه، شهری، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها این ریاست در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل مواصلت ورزیده است.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۵) دوسیه وارد محاکم گردیده است درحالیکه چندین دوسیه قبلاً نیز تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۱۹) دوسیه فیصله شده، پیرامون (۳۳) دوسیه توسط قرار قضائی اجراآت شده، (٦) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دوهفته به تعداد (۲۵) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۷) دوسیه فیصله شده، پیرامون (۱۸) دوسیه توسط قرار قضائی اجراآت شده، (۲) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده است و متباقی دوسیه تحت کارمی‌باشد.

همچنان در این مدت به تعداد (۱۰۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا شده است.

## محاکم ولایت سمنگان در جریان دو هفته علاوه بر حل و فصل ۹۷ دوسیه، به تعداد (۸۰) قطعه وثایق نیز اجرا کرده است

اجراآت دو هفته از تاریخ ۱٤٤٤/۷/۲۷ الی ۱٤٤٤/۸/۹ هـ ق ریاست عمومی محاکم استیناف ولایت سمنگان شامل دواوین استیناف، محکمهٔ ابتدائیه شهری، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن، و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های این ریاست در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل مواصلت ورزیده است.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (٦۰) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه چندین دوسیه نیز قبلاً تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲۹) دوسیه فیصله شده، (۳۳) دوسیه توسط قرار قضائی اجراآت صورت گرفته، (٦) دوسیه طی مکتوب مسترد شده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳٦) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۰) دوسیه فیصله شده، پیرامون (۱٤) دوسیه توسط قرار قضائی اجراآت شده، (۵) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

همچنان در این مدت به تعداد (۸۰) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده است.

## محاکم ولایت فراه در دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱٦۸) دوسیه، (۱۹۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده است

توحید گزارش راپور دوسیه جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعه ولایت فراه از تاریخ۲۷/ ۷/ ۱۴۴۴ هـ ق الی ۱٤٤٤/۸/۹ هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها به شرح ذیل مواصلت ورزیده است .

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد(۹۳) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده است ؛ درحالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه موجود بود.

از آن جمله (۵) دوسیه طی مکتوب مسترد شده، (۱۵) دوسیه توسط قرار قضائی اجراآت شده، (۳۲)دوسیه فیصله گردیده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم شده است، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۵) دوسیه طی مکتوب مسترد شده، (۲۱) دوسیه توسط قرار قضائی اجراء شده، (۹۰)دوسیه فیصله گردیده است ومتباقی دوسیه تحت کار میباشد.

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۱۹۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.

## محاکم ولایت بلخ طی یک هفته علاوه بر حل و فصل (۲۱۶) دوسیه، (۲۸۱) قطعه وثایق مختلف النوع رانیز اجراء کرده‌است

توحید گزارش راپور دوسیه‌جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعه ولایت بلخ از تاریخ ۱۴۴۴/۷/۲۷ هـ ق الی ۱۴۴۴/۸/۲هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون شمال و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها به شرح ذیل مواصلت ورزیده‌است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۹۸)دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۲۷) دوسیه طی مکتوب، (٦۷) دوسیه توسط قرار قضائی، (۱٦) دوسیه توسط فیصلهٔ اجراآت گردیده‌است و متباقی دوسیه تحت ها کارمی‌باشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان یک هفته به تعداد(٦۱) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۱۰) دوسیه طی مکتوب، (۵۱)دوسیه توسط قرار قضائی و (۱۷)دوسیه توسط فیصله اجراآت گردیده‌است و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۳۵) دوسیه وارد دواوین مربوطه شده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه ها تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (٦) دوسیه طی مکتوب، (۱۹)دوسیه توسط قرار قضائی و (۳)دوسیه توسط فیصلهٔ اجراآت گردیده‌است.

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۲۸۱) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده و طبق فرمان (شماره ۳۴۲ج۱، مؤرخ ۱۴۴۳/۷/۲٦ هـ ق) عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله قیمت آن اخذ نگردیده‌است.

## د میدان وردګ ولایت اړوند محاکمو په دوو اونیو کې د (۱۶۷) دوسیو پر حل او فصل سربیره (۲۴۶) وثایق اجراء کړي دي

له ۱۴۴۴/۷/۱۶ هـ ق څخه تر ۱۴۴۴/۷/۳۰ هـ ق نېټې د میدان وردګ ولایت د محاکمو د دوسیو او وثایقو توحیدي راپور په لاندې ډول شریک شوی دی:

په دغه راپور کې د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې، د ښاري ابتدائیه محکمې او ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو د تېرو دوو اونیو حقوقي، جزائي او تجارتي اجراآت شامل دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې (۸۴) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه (۴۳) مکتوبې، (۳۸) دوسیې د قضائي قرار په وسیله او (۳۸) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې (۱۷)جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه د (۱۷) دوسیو په اړه مکتوبي اجراآت شوي، د (۱۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۵) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

دغه راز په یاده موده کې (۲۴۶) بېلا بېل وثایق اجراء شوي چې د افغانستان اسلامي امارت د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د۱۴۴۳/۷/۲۶ هـ ق نېټې د (۳۴۲ج ۱) شمېره فرمان په اساس یې قیمت نه دی اخیستل شوی.

## طی دو هفته در دواوین محکمهٔ ابتدائیهٔ زون سوم شهر کابل ۲۰۷ دوسیه حل و فصل شده‌است

گزارش اجراآت دو هفته‌ی بخش‌های جزائی و حقوقی دواوین مربوطه محکمه ابتدائیه زون سوم شهر کابل از تاریخ ۱٤٤٤/٦/۱٤ هـ ق الی ۱٤٤٤/٦/۲٦ هـ ق به شرح ذیل مواصلت ورزیده است.

**۱. دیوان جزاء این محکمه:**

در جریان دو هفته به تعداد ۲۹ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد ۳۲ قضیه فیصله شده، ۲٤قضیه توسط قرار قضائی و ۲ قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده‌است، متباقی آن تحت دوران قرار دارد.

**۲. دیوان امنیت عامهٔ این محکمه:**

در جریان دو هفته به تعداد ۱۵ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد ۹ قضیه فیصله شده، ۲ قضیه توسط قرارقضائی و ۸٦ قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده است که متباقی آن تحت دوران قرارداشته است.

**۳. دیوان مدنی این محکمه:**

در جریان دو هفته به تعداد ٥٦ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد ۹ قضیه فیصله شده، ۲۲ قضیه قرار قضائی و ۲۱ قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده‌است، متباقی دوسیه تحت دوران قرار دارد.

## ننګرهار ولايت کې لس ورځنی قضائي سيمينار پای ته ورسېد

د پنجشنبې په ورځ (۱۴۴۴/۸/۹ هـ ق) نېټه د سترې محکمې د قضائي تعليماتو عمومي رياست لخوا د ننګرهار ولايت د محاکمو قضائي کارکوونکو ته جوړ شوی لس ورځنی سيمينار پای ته ورسېد. په دغه قضائي سيمينار کې چې د روان ۱۴۴۴ هـ ق کال د شعبان مياشتې په لومړۍ نېټه پيل شو، د ننګرهار ولايت د محاکمو قضاتو، مفتيانو او محررينو ته د قضائي تعليماتو د عمومي رئيس الحاج مولوي عبدالرحمن (غزنوي) صاحب، د ياد رياست د مسلکي استادانو محترم شيخ صاحب جان صاحب، مفتي نصيب الله طيب صاحب، مفتي محمد صاحب او مفتي رازمحمد سباوون صاحب لخوا د قضاء مسلک کې عملي او نظري روزنه ورکړل شوه. د دغه قضائي سيمينار په اختتاميه ناسته کې شيخ صاحب جان صاحب، د ننګرهار د محبس مسؤول، د تعليمات قضائي عمومي رئيس او د ولايت مقام په استازيتوب مولوي خليل الرحمن صاحب تفصيلي علمي ويناوې وکړې.

## جلسۀ قضائی و اداری ریاست محکمۀ مرافعه ولایت سرپل دائر گردید

جلسۀ متذکره روز یکشنبه به تاریخ ۵/ ۸ /۱۴۴۴هجری قمری با اشتراک رؤسای دواوین محکمۀ مرافعه، محکمۀ ابتدائیه شهری، آمریت ثبت اسناد وثایق و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها تحت ریاست محترم الحاج مولوی یارمحمد «عمری» رئیس عمومی محکمۀ مرافعه دایر گردید.

نخست جلسه با تلاوت چندی از آیات کلام الله مجید آغاز شد؛ سپس روی موضوعات مختلف ذیل بحث و گفتگو نموده‌اند:

۱ ـ مسؤولیت هر کس مشخص است رؤسای محترم محاکم مسؤلیت بیشتری دارند، امید است مسؤولین محترم وظایف خویش را طبق اصول انجام دهند.

۲ ـ متهمین به قمار باید به درستی تحقیق گردد در صورتیکه ثابت شد مدت حبس و تعزیر آنها مفوض به رای قاضی می‌باشد، امید است مدت حبس و تعداد تعزیرات آنهاطور تنظیم شود که تا عبرت برای دیگران گردد.

۳_ ترتیب و تنظیم دوسیه‌جات باید طبق رهنمود اصول محاکماتی صورت گیرد.

۴_ دوسیه های جزائی قبل از دوسیه های حقوقی و دوسیه های نقضی قبل از دیگر دوسیه هاباید دیده شود.

۵_ طبق متحدالمآل شماره (۴۳) مؤرخ ۵/ ۸ / ۱۴۴۴ هـ ق ریاست محترم دارلانشاء مقام عالی ستره محکمه ا.ا.ا دوسیه هایی که جزای خفیفه دارند نسبت به دوسیه های که جرم ثقیله دارند حق اولویت داده شود .

۶ ـ دوسیه ها باید از طریق پوسته و یا توسط مدعی، مدعی علیه و یا وکیل آنها بطور سربسته به مراجع مربوطه ارسال گردد؛ نه به دست شخص سومی .

۷ـ مسؤولین محترم محاکم باید با مراجعین رفتار نیک داشته باشند خصوصا قاضی صاحبان با مدعی و مدعی علیه رفتار خوب به پیش گیرند؛ چون اگر در صورتیکه با آنها رفتار تهدید آمیز صورت گیرد نمی توانند به درستی سخن خود را بازگو کنند و از خود دفاع نمایند.

۸ـ به اساس متحدالمآل شماره(۳۱) مؤرخ ۱۸/ ۴ / ۱۴۴۴ هـ ق ریاست محترم دارلانشاء مقام عالی ستره محکمه ا.ا.ا در صورتیکه محکوم له تقاضای تطبیق را نماید و یا محکوم علیه تقاضای تجدید نظر را نماید در هر صورت دوسیه در هر ولایت از طریق محکمۀ مرافعه به محکمه خاص فرستاده میشود؛ اگر دوسیه در محاکم ابتدائیه قرار داشته باشد در صورت در خواست یکی از طرفین دعوی دوسیه را غرض ارسال به محکمۀ خاص به محکمۀ مرافعه ارسال دارند.

۹ ـ ارسال مکاتب و درخواست معلومات از ثبت محفوظ قباله و وثایق و همچنان در خواست زندانی و غیره خارج از ولایت باید از طریق ریاست محکمۀ مرافعه صورت گیرد.

۱۰ ـ دعاوی زمین زمانیکه به محاکم راجع میگردد اول باید طبق متحدالمآل شماره (۲۴) مؤرخ ۱۰ / ۳ / ۱۴۴۴هـ ق ریاست محترم دارلانشاء مقام عالی ستره محکمه ا.ا.ا از قضایای امارت به شکل تحریری مطالبه معلومات نماید در صورتیکه زمین مدعی بها سلطانی ثابت شد ممکن اکثر مردم بخاطر از دست رفتن زمین سلطانی آماده صلح شوند ولی قاضی صاحبان باید این صلح را قبول نکند و دوسیه زمین های سلطانی غرض جلوگیری از غصب اجراآت اصولی صورت گیرد .

۱۱ ـ مسؤولین محترم محاکم باید از مصرف گزاف برق جلوگیری کنند؛ چون برق کشور افغانستان وارداتی بوده و امارت اسلامی هم در حالت تحریم قرار دارد .

۱۲ — در صورتیکه مدعی از مدعی علیه مطالبه حلف کند صورت حلف تحریری از مدعی گرفته شود تا اینکه درآینده نسبت به اجبار نکند.در خاتمه جلسه متذکره توسط الحاج مولوی یارمحمد «عمری» رئیس عمومی محکمۀ مرافعه به دعائیۀ خیر به اختتام رسید.

## د پکتيا د مرافعه او ښاري محاکمو د کارکوونکو ترمنځ اداري ناسته ترسره شوه

د روان ۱٤٤٤هـ ق کال د اوومې مياشتې په ۱۱مه نېټه د پکتيا ولايت د مرافعه محکمې عمومي رئيس الحاج مفتي عبيدالله (خالد) او د ښاري ابتدائيه محکمې رئيس له اداري، امنيتي او خدماتي کارکوونکو سره ناسته وکړه. ناسته د قرآنکريم د مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه او د مرافعه محکمې عمومي رئيس د ناستې ګډونوالو ته ښه راغلاست وويل.

د مرافعه محکمې رئيس وويل، خپلې چارې د الله (جل جلاله) د رضا په خاطر په صحيح ډول ترسره کړئ، د اسلامي شرعيت په چوکاټ کې ژوند تېر کړئ، خپل اداري کارونه د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو او د سترې محکمې لوړ مقام د هداياتو سره سم ترسره کړئ.

د قرآنکريم او د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د احاديثو په رڼا کې يې د اسلامي نظام، د امير د اطاعت، متقابل احترام، اخلاص او ښتينولۍ په هکله ګډونوالو ته اصلاحي ويناوې وکړې.

همدارنګه د محکمې د چاپېريال په پاک ساتلو او د محکمې او قضاتو د امنيت په ساتلو يې ټينګار وکړ.

په پای کې د پکتيا ولايت مرافعه او د ښاري ابتدائيه محکمې اداري، امنيتي او خدماتي کارکوونکو د مرافعه محکمې له رئيس څخه مننه وکړه.

ناسته د دعاء په ويلو پای ته ورسېده.

## جلسه قضائی و اداری ریاست محکمۀ مرافعه ولایت کاپیسا در تدویر یافت

روز چهارشنبه مؤرخ ١٤٤٤/٨/١ هـ ق جلسۀ قضائی و اداری در مقر این ریاست تدویر یافت.

این جلسه در حالی شکل گرفت که کلیه قضات محاکم ابتدائیه ولسوالی ها شش گانه ( اله سای،نجراب، تگاب، کوهبند حصه اول کوهستان و حصه دوم کوهستان) و قضات استیناف و شهری اعم از رئیس، مفتی و محرر حضور داشتند.

این جلسه با چندی از آیات کلام الله شریف توسط محترم مولوی صاحب دل آغا (درویش) رئیس دیوان ترافیک محکمۀ شهری افتتاح گردید، که متصل رئیس محکمۀ مرافعه ولایت کاپیسا مولوی میرآقا مشهور به ذبیح الله(خالد) سخنرانی کرد و موارد ذیل را به گونۀ مفصل مورد بیان قرار داد:

١. صحبت مفصل در مورد دقت نمودن در سلوک و رفتار نیک با مراجعین ایراد فرمود.

٢. در مورد پیشنهاد صحبت کرد و از انواع پیشنهاد که بهادار و غیر بهادار است بیان فرمود در ضمن اشاره نمود.

٣. از صرفه جویی برق صحبت کرد و اشاره نمود که همه کارمندان محاکم باید به صرفه جویی برق توجه جدی داشته باشند.

٤. صرفه جویی استفاده از آب صحبت نمود گفت آب مایه حیات است نباید در این مسئله بی پروا باشیم.

٥. از چگونگی ثبت دوسیه های فیصله شده در دیتابس صحبت کرد و نیز اهمیت آن را بیان نمود.

٦. مکتوب متحدالمآل مورد تشریح قرار داد و تأکید نمود دوسیه های جزائی در اولیت قرار دهید و هرچه عاجل تر به آن رسیده‌گی نمایید.

٧. از همآهنگی و تفاهم میان قضات گرامی اعم از رئیس، مفتی و محرر اشاره نمود و تأکید داشت یک اداره وقتی می‌تواند به موفقیت دست یابد که تفاهم بیشتر داشته باشد.

٨. از بخوانش گرفتن صورت دعوی نزد مدعی صحبت کرد و گفت نزد مدعی صورت دعوی خوانده شود؛ در صورت تائید مدعی شصت آن راگرفته شود در ضمن اشاره نمود هر صورت دعوی، دفاعیه، اعتراض و دفع اعتراض در وکیل مدافع ترتیب نموده باشد می بایست مهر وکیل مدافع در آن موجود باشد.

٩. گفت محکمۀ اختصاصی فعال گردید و دوسیه‌های که مربوط به آن می‌شود فرستاده شده‌است و از همکاری و همآهنگی با قضات که در محکمۀ اختصاصی تقرر حاصل نموده است اشاره نمود.

١٠. به روی حاضری تأکید نمود و گفت پابندی به حاضری نشان دهنده عزم راسخ فرد در امور وظیفه محوله آن می باشد.

١١. گفت نهاد قضائی نهاد مستقل است و مستقلانه عمل می‌کند؛ از هیچ ارگان هراس نداشته باشید و کار تان مدلل و برمبنی حقیقت استوار باشد.

بعد از سخنان رئیس صاحب محکمۀ مرافعه ولایت کاپیسا مفتی عبدالروف «سعادت» رئیس محکمۀ شهری ولایت کاپیسا موارد ذیل را به بحث گرفت:

١. از اصولنامه صحبت نمود وگفت مبنی فیصله جات و غیره باید بر مبنی اصولنامه امارت اسلامی افغانستان باشد.

٢. گفت در مورد رهنمود های که از طریق مکتوب متحدالمآل مواصلت می ورزند باید دقت خوانده و تطبیق نمودن آن یک امری ضروری است.

٣. و نیز از اهمیت همآهنگی قضات گرامی صحبت کرد و گفت مسایل را باید از یک دیگر پرسید تا اینکه خدای ناکرده به خطا نرویم.

٤. از سلسله مراتب صحبت کرد و گفت این سلسله مراتب از مقام بالا تعریف شده مباید تطبیق شود.

٥. اشاره نمود در موضوعات که در آن دچار سردرگمی هستیم باید از مقام بالا استهدائیه شود.

در آخیربعداز پرسش و پاسخ دعای اختتامیه نمودند و جلسه خاتمه یافت.

## رئیس محکمۀ مرافعۀ پروان از محاکم ابتدائیۀ ولسوالی های جبل السراج و سالنگ آن ولایت بازدید کرد

به تاریخ ١٤٤٤/٧/٣٠ ه ق محترم شیخ محمد قسیم»محمدی» رئیس محکمۀ استیناف پروان با همراهی محترم الحاج مفتی عزیزالله (حیدری) رئیس دیوان مدنی استیناف پروان و محترم محمد نسیم(حکیمی) مدیر اجرائیه آمریت تحریرات محکمۀ استیناف پروان از دفاتر کاری محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های جبل السراج و محکمۀ ابتدائیه ولسوالی سالنگ ولایت پروان بازدید به عمل آورده اند.

در ابتداء جلسه مختصر در دفاتر محاکم ذکرشده با قضات آن ولسوالی ها تدویرگردید؛ بعداً دفاتر حاضری، کتاب ثبت اندراج، حقوقی، جزائی، کتاب وارده صادره، کتاب صورت حال، کتاب ثبت عرایض، دفتر شهریه و کنده جات وثایق آن محاکم را بررسی نمود، مشکلات که در روند کاری یومیه دوسیه‌ها و وثایق شان دیده شد برای مسؤولین مربوطه آن رهنمائی لازم صورت گرفت.

علاوه بر آن از طرف محترم «محمدی» رئیس محکمۀ استیناف پروان موارد ذیل نیز تأکید صورت گرفت:

١. در رابطه به ترتیب و تنظیم دوسیه جات توجه جدی صورت گیرد؛ تا خود و مراجع مربوطۀ آن به مشکل اداری و قضائی مواجه نگردند.

٢. عرایض مراجعین توسط رئیس محکمۀ استیناف پروان استماع و در زمینه به آنها رهنمائی که لازم بود هدایت دادند.

٣. برای پرسونل محاکم هدایت داده شد تا با مراجعین و اصحاب دعوی رویه نیک و سالم به عمل آورند.

٤. استفاده و رعایت از اصولنامه، لوایح و متحدالمآل های ریاست عمومی دارالانشاء ستره محکمه ا.ا.ا.

٥. عرضه خدمات بهتر برای مردم رنج دیده ولسوالی های جبل السراج و سالنگ بدون تأخیر صورت گیرد.

٦. ارائیه راپور های دو هفته ئی، ربع وار ، سالانه و راپور های حاضری ۲۵ روزه با درنظرداشت جدول ها و رهنمائی مقام عالی ستره محکمه.

در خاتمه مشکلات و پیشنهادات محاکم مذکور توسط هیئت مؤظف یاداشت گردید؛ تا جهت بهبود اجراآت، مرفوع گردد.

بازدید وجلسه با دعائیۀ خیر و فلاح توسط رئیس محکمۀ استیناف پروان اختتام یافت.

سرپرست مسئوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اديتور : جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خپرندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپيږي

# د سترې محکمې متحدالمآلونه

## د متحدالمآل ګڼه: ٤١
**نېټه: ۱۴۴۴/۷/۳ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په ولايتونو کې د ابتدائيه محکمو او استيناف محاکمو لخوا چې کوم مجرمين په حبس محکوميږي د دغه محبوسينو په حبس کې د ساتلو د ترتيب په باره کې د سترې محکمې عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۴/۶/۵هـ ق کې د تصويب نمبر (۱۶) په اساس داسي هدايت وکړ:

((په عموم کې دې بنديان د بندي کيدلو له نېټې څخه تر شپږ مياشتو پورې د ولسوالۍ په محبس کې وساتل شي د شپږو مياشتو وروسته دې د ولايت محبس ته انتقال شي او د انتقال د نېټې څخه تر يوه کال پورې دې د ولايت په محبس کې وساتل شي، په ولايت کې تر يوه کال تيريدو وروسته يې که د حبس موده پاته وه نو دې د زون محبس ته انتقال شي او زون ته د سپارلو د نېټې څخه تر درو کلونو پورې دې د زون په محبس کې وساتل شي، که په زون کې د درو کلونو تر تېرېدو وروسته يې بيا هم د حبس موده پوره نشوه نو دې د مرکز زندان ته انتقال شي او د حبس پاته موده دې په مرکز کې تيره کړي، دا په هغه صورت کې چې فيصله په ابتدائيه يا استيناف کې قطعي شوې نه وي.

که د ولسوالۍ ابتدائيه محکمې د يوه کال د حبس فيصله وکړه او طرفينو پرې قناعت وکړ په دې صورت کې دې بندي د ولايت محبس ته واستول شي.

که يې د يوه کال څخه زيات تر درو کلونو د حبس فيصله وکړه او طرفينو پرې قناعت وکړ بندي دې د زون محبس ته واستوي.

که يې د درو کلونو څخه د زيات حبس فيصله وکړه او طرفينو پرې قناعت وکړ نو بندي دې مرکزي زندان ته واستول شي.

که استيناف محکمې د درو کلونو د حبس فيصله وکړه او جانبينو قناعت وکړ نو دې محبوس د زون محبس ته واستوي او که يې د درو کلونو څخه د زيات حبس فيصله وکړه او جانبينو قناعت پرې وکړ نو دې محبوس مرکزي زندان ته واستوي، همدغسي ترتيب د تميز عالي رياست دی د پورتني ترتيب مطابق اجراآت ترسره کوي.

د دارالانشاء عمومي رياست دې دغه موضوع په متحدالمآل شکل ټولو محکمو ته واستوي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې عالي مقام پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

## د متحدالمآل ګڼه: ۴۲
**نېټه: ۱۴۴۴/۷/۱۵ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت په محاکمو کې کله چې يوه دوسيه د ابتدائيه محکمې د فيصلې څخه وروسته استيناف ته استول کيږي او د استيناف د فيصلې څخه وروسته تميز ته استول کيږي نو د دوسيې د استولو په وخت کې بعضي محاکم د دوسيې اوراق په دقت سره نه ګوري او د مرسل اليه مرجع په ليکلو کې هم د دقت څخه کار نه اخلي، مربوط د يوې مرجع وي ليکلي يې بله مرجع وي، چې دغه موضوع د سترې محکمې عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۴/۶/۵هـ ق کې مطرح شوه او عالي شورا يې په اړه د تصويب نمبر (۱۷) په اساس داسي هدايت وکړ:

((ټول محاکم مکلف دي چې د دوسيې د استولو په وخت کې د دوسيې ټول اوراق په دقت سره حساب کړي او تعداد يې په مکتوب کې وليکي همدارنګه د مُرسِل او مُرسَل اليه تعين دې هم په پوره دقت سره وکړي.))

همدارنګه په ياده جلسه کې، د فيصلې د ځنډ د علت په باره کې عالي شورا د تصويب نمبر(۱۹) مورخ ۱۴۴۴/۶/۵هـ ق په اساس داسي هدايت وکړ:

((کله چې د اسلامي امارت په محاکمو کې کومه فيصله په ځنډ صادره شي نو محکمه دې د ځنډ علت و سترې محکمې ته په مکتوبي شکل را استوي او د دغه مکتوب يوه کاپي به د فيصلې سره يو ځای په دوسيه کې ايږدي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوي هدايات د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

## د متحدالمآل ګڼه: ۴۳
**نېټه: ۱۴۴۴/۸/۵ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : په تاريخ ۱۴۴۴/۸/۱هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د حوت مياشتې د دريمې (۳) نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادې غونډې دوهمه موضوع داسي وه:

د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست مکتوب مورخ ۱۴۴۴/۷/۳۰هـ ق رارسيدلی او په هغه کې يادونه شوي چې: د خفيف جرم په تور نيول شوي بنديان، په محاکمو کې د دوسيو د زياتوالي په وجه ډيري مياشتې نوبت ته انتظار کوي تر څو يې محاکم په اړه حکم صادر کړي، بالخصوص د جزاء او امنيت عامه ديوانونو کې، په دې اړه چې څرنګه ترتيب وشي؟))

په اړه يې عالي شورا د تصويب نمبر (۳۱) مورخ ۱۴۴۴/۸/۱هـ ق د دوهمې پريکړې په اساس داسي هدايت وکړ: ((هره محکمه دې د بنديانو موضوعاتو ته د مخکې په شان د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر(۲)مورخ۱۴۴۴/۱/۱۰هـ ق مطابق حق د اوليت ورکړي او هغه ديوانونه چې زيات بنديان لري لکه امنيت عامه ديوان او د جزاء ديوان، هغوی دې نوي بنديان چې تر اوسه يې دوسيې محکمې ته نه وي سپارل شوي، د مربوطه اداري لخوا په هره هفته کې د يکشنبې په ورځ د امنيت عامه ديوان ته او د سه شنبې په ورځ د جزاء ديوان ته د دوسيو سره يو ځای راوستل شي، تر هغه وروسته به يې محکمه وګوري د کوم بندي چې جرم سپک وو هغه ته دې د نورو بنديانو څخه حق د اوليت ورکړي او د کوم بندي چې جرم دروند وو هغه دې د بنديانو د دوسيو په نوبت کې راولي او په خپل وخت دې موضوع ورته خلاصه کړي.

د امنيت عامه او جزاء ديوانو څخه ماسوا چې د نورو موضوعاتو نوي بنديان وي هغه بنديان دې په مرکز کې د زون د رئيس صاحب او په ولايتونو کې د ښهري او استيناف رئيسان صاحبان په هره هفته کې د دوشنبې په ورځ د دوسيو سره راوغواړي تر څو د غټ او سپک جرم والا سره جلا سي او پر وخت دې د هر بندي موضوع د ياد ترتيب موافق بې له ځنډه خلاصه کړي.))

د پورته ذکر شوي مجلس پنځمه موضوع داسي وه: ((د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي راياست د متحدالمآل نمبر (۳۶) مورخ ۱۴۴۴/۵/۹هـ ق مطابق، که کومه محکمه د دوسيې د ځنډ عذر د سترې محکمې محترم مقام ته راواستوي تر هغه ورسته څه اجراآت ترسره شي.؟)) په اړه يې عالي شورا د تصويب نمبر (۳۱) مورخ ۱۴۴۴/۸/۱هـ ق د پنځمې پريکړې په اساس داسي هدايت وکړ: ((کومه محکمه چې د دوسيې د ځنډ عذر د سترې محکمې محترم مقام ته راواستوي د مقام تر تائيد وروسته به مربوطه محکمې ته د سترې محکمې د مقام د دفتر رياست لخوا استول کيږي او محکمه به د دغه عذر د تائيد مکتوب په دوسيه کې ايږدي))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوي هدايات د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

## د متحدالمآل ګڼه: ۴۴
**نېټه: ۱۴۴۴/۸/ ۶ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : په تاريخ ۱۴۴۴/۸/۱هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د حوت مياشتې د دريمې (۳) نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادې غونډې لومړۍ موضوع داسي وه: ((ځيني وخت يو کس د يو زون د نظامي محکمې څخه د بل زون نظامي محکمې ته يا د يوه ولايت د تيري اداري د دوسيو خيړلو اختصاصيه محکمې څخه د بل ولايت اختصاصيه محکمې ته تبديل د محکمې غواړي، په دې اړه چې څرنګه ترتيب وشي؟))

په اړه يې د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر (۳۱) مورخ ۱۴۴۴/۸/۱هـ ق د لومړۍ پريکړې په اساس داسي هدايت وکړ: ((د يو زون د نظامي محکمې څخه د بل زون نظامي محکمې ته او په هر ولايت کې د تيري اداري د قطعي او نهائي غير تطبيق شده فيصلو د بيا خيړلو اختصاصيه محکمې څخه د بل ولايت اختصاصيه محکمې ته تبديل نشي کيدلای.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

# د کابل ولايت د استيناف محکمې رئيس د اسنادو او وثايقو د ثبت له پنځو آمريتونو څخه ليدنه وکړه

د کابل ولايت د مرافعه محکمې رئيس ښاغلي مولوي عبدالشکور « رشاد آخندزاده » د ۱۴۴۴ هـ ق کال د شعبان المعظم مياشتې په څلورمه د دغه ولايت د اسنادو او وثايقو د ثبت د پنځو آمريتونو مسلکي او اداري چارې له نږدې وکتلې.

د مرافعه محکمې رئيس د يادو آمريتونو څخه د کتنې پر مهال د کارکوونکو د چارو نظارت، په چارو کې د کارکوونکو د ستونزو تشخيص وو.

د مرافعه محکمې محترم رئيس د يادې کتنې پر مهال د پنځو آمريتونو له قاضيانو او د تحريراتو له مديرانو سره پر مجلس سربېره د يادو آمريتونو د حاضرۍ کتابونه، وارده او صادره کتابونه او د اجراً شوو وثايقو څو نمونې وکتلې، د کارونو د تنظيم او لابهبود په موخه يې لازم هدايات او سپارښتنې وکړې.

د مرافعه محکمې رئيس محترم مولوي عبدالشکور «رشاد آخندزاده» ټولو آمريتونو ته هدايت وکړ څو د تېر رژيم د هغه قوانينو له تطبيق څخه جدي ډډه وکړي کوم چې له اسلامي شريعت سره په ټکر کې وي.

نوموړي زياته کړه چې له مراجعينو سره بايد ښه چلند وشي او د هغوی کارونه بايد په معين وخت کې ترسره شي.

ميزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publication@supremecourt.gov.af

www.supremecourt.gov.af

د ټلېفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳